# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤٧ ګڼه / چهارشنبه ۲۹ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۹ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش / ۰۸ می ۲۰۲٤ میلادي


## د اقتصادي کمیسیون غونډه کې د مالدارۍ او کرنیزو محصولاتو په تړاو بحثونه وشول

د ریاســت الوزرا اقتصادي معاونیت پرون پر خپل اېکس په مرمرینه ماڼۍ کې د اقتصادي کمیسیون د غونډې خبــر ورکړی دی. په دې غونډه کې د کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې کړنلاره او د کان کیندنې په پــروژو کې د کورنیو تولیداتــو څخه د ګټې اخیستنې پر پالیسیو بحث وشو. د یادو موضوعاتو تر ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې د موضوعاتــو د لا بداینــې په موخه دې په دې مســودو کې د صنعت او سوداګرۍ، اقتصاد او مالیې وزارتونه او د ســتندرډ ملي اداري غړي زیات شــي او د نظــر اخیســتلو لپاره دې تدارکاتو ریاست ته ولېږل شي. همدارنګــه د کان کیندنې پروژو کې د کورنیو تولیداتو څخه د استفادې په اړه د جوړې شوې پالیسۍ د اصلاح او غنــې کولو په موخــه د اقتصادي معاونیــت د اقتصادي ریاســت په مشــرۍ تاکل شــوې کمېټې ته دنده وســپارل شــوه، څو په دې اړه ګډې ناستې وکړي او اصلاح شوې پالیسي دې بېرتــه د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې راتلونکې ناسـتې ته وړاندې کړي.د اقتصادي کمیسیون تخنیکــي کمېټې نوبتــي غونډې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په مشــرۍ دایرېږي چې په هره غونډه کې پر لویو او مهمو پروژو بحثونه کېږي.

### شرکت برشنا :

## نزدیک به ۴۰ میلیارد افغانی بابت صرفیه برق در کشور جمع آوری شده است

**شریعت :** مسؤلین ریاست عمومی شرکت برشــنا طی کنفرانس خبری در مرکــز اطلاعات و رســانه های حکومت دستآورد ها و فعالیت های ســال ۱٤۰۲ آن اداره را با رسانه های کشور شریک ساختند.

**حکمت الله میوندی ســخنگوی شرکت برشــنا گفت:»** این شرکت همواره تــلاش دارد تا برای هموطنان برق رســانی منظم را ارائه کند اما از ۱۰۰ درصــد بــرق ۸۰ درصد برق کشور وارداتی است که بنابر مشکل تخنیکی در آن، کمبــود برق بوجود می آیــد و تلاش داریم تا بالای منابع تخنیکــی کشــورکارصورت گیــرد ازطریق منابــع داخلی وضعیت برق رسانی درکشور بهبود یابد.

**آقای میونــدی با تاکیــد برمنابع داخلی اظهارداشــت که:»** درسال ۱٤۰۲ از کشــورهای همســایه ازبیکســتان بــه ارزش ۱۰۵٫۳ میلیون دالرامریکایی، تاجیکستان به ارزش ۷۱٫۲ میلیون دالرامریکایی، ترکمنســتان به ارزش۲٫۱٦٤٫٤۸ میلیون دالر امریکایی وایران به ارزش ٦٤٫۲ دالرامریکایی دربدل بل برق به افغانستان برق وارد شده وافزون بر آن از بعضی کمپنی ها وشرکت های خصوصی داخلی نیز به ارزش ۳٦٫٥ میلیون دالر امریکایی برق گرفته شده است و در بخش تولید از ص۳

## د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ ۱۳ سوداګریز هوکړه لیکونه لاسلیک شول



د صنعــت او ســوداګرۍ وزارت او د ترکمنســتان د ســوداګرو او صنعت کارانــو ټولنې ترمنــځ د ۲۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت ۱۳ سوداګریز تړونونه لاسلیک شول. دغه تړونونه د صنعت او ســوداګرۍ وزارت د سرپرســت نورالدیــن عزیزي او د ترکمنســتان د سوداګرو او صنعت کارانو ټولنې رییس نوکر قلي اتاقلي اف له لوري لاسلیک شــول. د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست‌ویلي، دغه‌سوداګریز تړونونه ترکمنستان ته د هغه د پخواني سفر او د یاد هېواد له چارواکو سره د خبرو اترو پایله ده او په خبره یې، له دې هېواد سره به دې ته ورته نور سوداګریز تړونونه هم لاسلیک‌شي. ۳مخ

## لغمان کې د پینځو چکډېمونو چارې بشپړې شوې

د لغمــان د کرنــې اوبــو لګولو او مالدارۍ ریاســت مســوولین پــه دغــه ولایــت کــې د پینځو چیکډېمونــو د بشــپړولو خبــر ورکوي.



د لغمــان د کرنــې اوبــو لګولو او مالدارۍ ریاســت مســوولینو پــه وینــا د یــادو چکډېمونو پر بشــپړولو شــاوخوا ۱۲ میلیونــه افغانۍ لګښت راغلی دی.

د لغمــان والــي قــاري زیــن العابدیــن عابد د یــادو پروژو په پرانیســتغونډه کــې ویلــي، چې اســلامي امارت په هېــواد کې د تولګټــو او پراختیایــي پروژو پلي کولو تــه ژمن دی.ورتــه مهال د لغمــان د کرنــې اوبــو لګولو او مالدارۍ رئیس مولوي محمد ولي محسن وویل، چې دغه پروژې د لغمان په پینځو ولسوالیو کې پلي شــوي ، چې هر چکډېم به د ۲۰ زره متره مکعــب اوبو ذخیره کولو وړتیا ولــري.د یادونې وړ ده چې اسلامي امارت د اوبو د مدیریت برخه کې لا ډېر کار ته چمتووالی ښودلی.

## کندهار کې د سمنټو تولید ستره کارخونه رغیږي

د کندهــار پــه ښــورانداموکې د احمدنبــي زاده پــه نوم د ســلو میلیونــو ډالــرو پــه ارزښــت د ســمنټو د تولیــد د یــوې لویې کارخونې چارې روانې دي.

دا کارخونــه پــه دوو فازونو کې پر ۱۰۰ جریبه ځمکه جوړېږي.

د یــادې کارخونــې د جوړېــدو کارونه په چټکۍ ســره روان دي او اوســمهال یــې د جوړېــدو چارې ٥٥ ســلنه بشــپړې شوي دي.

ددې کارخونــې د لومړي فاز تر بشپړېدو وروســته به په ورځنۍ توګــه ۱٥۰۰ ټنه او د دویم فاز تر بشپړېدو وروســته به یې ورځني تولیــدات ٥ زره ټنــه وي او دغه راز به شــاوخوا ٦ زره کســانو ته په مســتقیم او غیر مســتقیم ډول کارمونده وشي.


د منځنۍ آسیا د اسلامي تمدن ځینې مشهورې سیمې او علماء! ۲

د اسلام ونه د شهیدانو په وینو زرغونېږي ۲

افغان اعلانات ۳


### سرمقاله

## افغانان دې لاس ته راغلی فرصت نه ضایع کوي!

حقیقت دادی چې اوســنۍ نړۍ کې ژوند کول یقیناً داســې دي لکه په یو کاملاً وحشي ځنګل کې اوسېدل. داسې ځنګل چې نه انسان پکې وي او نه څه انساني ارزښتونه. بلکې یوازې د خو ښــکرورو او داړ ورو واک او قانون پکې حاکم وي. مطلب موږ هم وروستۍ څلورلسیزې داسې وخت تېر کړی چې د همدې وحشي نړۍ ټولو ښکرورو پر موږ بریدونه کړي، موږ یې هم ځپلي یو او دوی هم ستومانه شوي دي. اوس موږ له خورا سختو حالاتو راوتلي یو، شوروي یرغلګر او کورنیو بړیځو یې شپږ څلویښــت کاله مخکې زموږ یو محکم ملي حکومت را ړنګ او څوارلس کاله یې زموږ پر لوېشت لوېشت ځمکه اورونه او بمونه ورغورځول، بیا یې لس کاله د خپلو اجیرو ملیشو پر مټ لا هم جګړه روانه وساتله او تر هغه وروسته بیا شل کاله د صلیبي یرغل او اشغال په ترڅ کې له هر پلوه سخت وځپل شوو. لنده دا چې تر ډېرو سړو تودو وروسته اوس دادی د امنیت او خپلواکۍ یو ډېر غوره زرین فرصت په لاس راغلی. خو پام مووي چې دا حالت هم پر موږ د هیچا پېرزو نه دی اولا هم ګرد چاپېره دښمنان شپه ورځ هڅه کوي چې په هر ممکن صورت مو یو ځل بیا پخوانیو بدبختیو سره لاس ګرېوان کړي. ځکه خو افغان ولس ته په کار دي چې ډېر اوښار او بیدار اوســي او د هغو مغرضو کړیو په لمسون او شیطانت ونه غولېږي د چا چې دلته زښته ډېر سرونه مات شوي، میلیاردونه پیسې یې لګېدلې اوسلګونه پلانونه، دسیسې او مؤسسې یې شنډې شوې. بناءً موږ ته لازمه ده چې تېر اشغالونه، مداخلې او ناخوالې له یاده ونه باسو او له مشرانو ترکشرانو او له عوامو تر خاصو ټول په ګډه په کامل جدیت او جذبه دا هڅه وکړو چې ځوربدلی ولس مو یو ځل بیا له تېرو ناخوالو او بد مرغیو سره مخ نه شي. له بده مرغه دښمن یو ځل بیا خپل هماغه څوځله پلورل شوي غلامان په همدې موخه ګمارلي چې زموږ هېواد کې یو شر او شرارت جوړ او خپل ارمانونه ترسره کړي. تاسې نه ګورئ اوس څومره تښتېدلي لیګادي ناري سورې وهي او د پرنګي له غېږې افغانان جګړو او بغاوت ته هڅوي په داسې حال کې چې د تېر شل کلن صلیبي اشغال په ټوله موده کې یې د یرغلګرو د خوښۍ لپاره په دې خبره ستوني وشکول چې جګړه مه کوئ، جګړه هېواد ورانوي او ناخوالې راولي.

نو ګرانو هېوادوالو ګورئ بیا مه غولېږئ او له همدې ترلاسه شوي فرصته د خپلې دفاع، خپلواکۍ ساتلو او ځان بسیا کولو لپاره پرنه ستړې کېدونکې مبارزې لاس پورې کړئ.

## یونیسف در بخش انکشاف انرژی در افغانستان تلاش خواهد کرد




وزارت آب و انــرژی می‌گویــد، صنــدوق حمایــت از کــودکان ســازمان ملل متحد (یونیســف) در بخش انکشاف انرژی برق در کشور تلاش می‌کند.این وزارت با نشر خبرنامه‌ای دیروز گفته که این مطلب را داکتر تاج‌الدین، رییس بخــش افغانســتان یونیســف در دیدار با ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب ص۳

## اوچا؛ سېلابونو تېره میاشت افغانستان کې ۱۰ زره جریبه ځمکه زیانمنه کړې ده

د ملګــرو ملتونو د بــشري چارو د همغږۍ اداره یا اوچاوایي چې یوازې په تېره میلادي میاشت کې افغانستان کې سېلابونو لس زره جریبه کرنیزه ځمکه‌ویجاړه‌کړې‌ده.داوچاریلییف ویب خپرونې په یوه راپور کې ویلي، د تېرې میاشتې اورښتونه او سېلابونه په تېرو ۴۰ کلونو کې له درېیو سختو هغو څخه دي چې ډېر مالي او ځاني زیانونه یې اړولي دي.ویل کېږي چې دغه‌زیانمنې‌شوې‌کرنیزې‌ځمکې‌یې ډېرې د افغانستان په ختیځ او جنوب ختیځو سیمو کې پرتې دي.پر کرنیزو ځمکو سربېره وروســتیو سېلابونو د زرګونو کورونــو په ګډون زرګونه څاروي هم وژلي دي.

## د غزني ښاروالۍ تېرکال څه باندې ۱۷۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي



د غزني ښــاروالۍ اداري مسوولینو تېــرکال د څه بانــدې ۱۷٥ میلیونه افغانۍ عوایدو د راټولېدو خبر ورکړی دی.د غزني ښــاروال مولوي محمد نبي حمــزه باختر آژانــس ته ویلي چې دغــه اداره توانېدلــې په ۱٤۰۲ کال کې د دغه ولایــت د کورونو او ساختمانونو د صفایي، د جایدادونو د کرایې، د اشتهاري لوحو او صنفي جوازونــو او د دوو ثابتو او غیر ثابتو سرچینو له درکه ۱۷٥ میلیونه ۳مخ

## میدان وردګو کې یو دارالایتام ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د میــدان وردګــو د ســید آبــاد ولســوالۍ تنګي درې کلي کې د ۳۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت یو دارالایتام جوړ او ګټې اخیستنې ته وســپارل شــو.د باختر آژانس د خبر له مخــې؛ دغه دارالایتام د ترکیې هېواد د ۲ وګړو له لوري د شــاوخوا ۳۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوی، چې د زده کوونکو لپاره ټول لازم امکانات په پام کې نیول شــوي او د یو شمېر دولتي چارواکــو او دیني عالمانو په شتون ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.هېره دې نه وي، چې د یاد دارالایتام یوه برخه لا تراوســه بشــپړه شــوې نه ده او پــه نږدې راتلوونکي کې به یې پاتې چارې بشپړې شي.

# د پردیو تاریخ لوستل!

محمدعلي عظمت

علمانیانو موږ ته د ناپلیون تاریخ لوست/وایي او ښه یې راته ځلوي، خو دا نه راته وایي چې هغه ۳ زره بندیان په غدر او فریب ووژل، په داسې حال کې چې هغوی ورته تسلیم شوي وو. دوی (علمانیان) د دې درس او تاریخ داسې وایي ، چې نوموړی له سترو انسانانو څخه و، خو دا ډول نه وایي، چې هغه فلســطین ته لاړ، ویې ویل: (اوس وخت راغلی چې یهودیان خپل هېواد ته راشي.) همداشان دوی دا نه وایي، چې د هغه په مستقیم امر د ښار مخور ووژل شول، د هغوی سرونه د ښار په دروازو راوځړول شول.

د پردیو غلامان (علمانیان/سیکولرســـتان) دا یادونه نه کوي، چې هغه (ناپلیون) له اسانو سره ازهر پوهنتون ته ننوت، شیخان (استاذان) او محصلین یې له تېغه تېر کړل او په مسلمانانو یې زره یخ کړ.

دا هم دا ړانده سیکولرستان وایي، چې ستر انسان و، په داسې حال کې چې پیشوګانې هم ترې ډارېدلې، چې له هېڅ قوماندان څخه پیشوګانې نه دي ډارې شوې. ولا حول ولا قوة الا بالله!

سیکولرســـتان موږ ته د ملکې کلیوباترا تاریخ غړوي په داســـې حال کې چې نوموړې خائنه او منحرفه وه. ولې د عایشـــې، اســـماء او د فرعون د مېرمنې اسیا (رضي الله عنهن) په اړه لږ معلومات هم موږ ته نه راکوي. موږ ته د امت د نورو بیبیانو په هکله هېڅ هم نه وایي!!

– موږ ته د افلاتون، سقراط او نورو تاریخ تدریسوي، خو د مسلمانو علماؤ او پوهانو تاریخ نه وایي، زموږ تاریخ د امام حسن بصري، امام ابوحنیفه، امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل رحمة الله علیهم او له نورو ســـتوریو څخه ډک دی، په معاصر تاریخ کې هم پوهان او عالمان لرو، همدا شان جنګي ځوانان لرو.

د صلاح الدین ایوبي، عقبه بن نافع، طارق بن زیاد، محمد بن قاسم او نورو په کړو وړو سترګې پټوي، یوازې دا نه، بلکې د اسلامي تاریخ ټول مشران او قوماندانان له نصابه حذفوي، د هغوی له عالي سیرت او نیکو اخلاقو ښـــوی تیرېږي په داسې حال کې، چې موږ په ټول تاریخ کې له خالد بن ولید رضي الله رانیولې د شـــوروي اشـــغالګرو تر پرځوونکو پورې ډېر، خورا ډېر قوماندانان لرو.

– همدا شـــان (علمانیان/ سیکولرستان) د بودا په اړه خبرې کوي، له نوموړي یې پیغمبر جوړ کړی، د هغه په نوم یې معبدونه جوړ کړي/ جوړوي او داســـې وایي، چې مســـلمانان د دوی قاتلان دي. د اســـلامي نړۍ علمانیان ولې د نورو غیر مسلمو (علمانیانو او سیکولرستانو) په اړه ډېـــر لیکل کوي او هغو ته لوړ ځای او مقام ورکوي، په ډېر ادب او احترام ســـره یې نومونه لیکي، خو د هغه چا په اړه هېڅ لیکل نه کوي چې ښارونه یې فتح کړل، انسانان یې له غلامۍ خلاص کړل، عدل یې خپور کړ او مساوات یې د مساوات اړوند چارو کې قایم کړ.

ولې د اسلامي نړۍ علمانیان د هغو په رابطه هېڅ هم نه لیکي.

آیا د داسې لیکلو هدف او مقصود د توندلارۍ، بېکارۍ او ټیټو اخلاقو خپرول دي او که څنګه؟ ولې دوی اصلي صحیح علم نه خپروي. په لوستونکو باندې هر څه ګډوډوي.

ایا د دوی( علمانیانو) موخه دا ده چې موږ خپل هویت ورو ورو لږ لږ له لاســـه ورکړو، تر څو موږ له خپل هویت څخه ښـــوی ووزو، داســـې ټولنه جوړه کړو، چې په نوم مسلمانه وي او د اسلام په اړه له هېڅ هم خبره نه وي، لکه د اشغال پر مهال ډېرو کسانو(متعلمینو او محصلینو) ته غیر مسلمانان په ډېر احترام او درنښت ورپېژندل کېدل او د خپلو مسلمانو لویانو هېڅ ذکر نه ورته کېده، د تعلیمي او تحصیلي نصاب په کتابونو کې په پښتو او دري کې پردي پوهان ور ښودل (پېژندل) کېدل.

هو! که موږ د غفلت له خوبه راوېښ نه شو، خپل مسلمان لویان و نه پېژنو، نو له راتلونکي نسل سره به مو خیانت کړی وي!!

# استقبال گرم زنان از نمایشگاه های قرآن کریم و کتاب در کشور

داوود ناظری

امســـال از برگزاری نمایشـــگاه های کتاب در کشـــور، اســـتقبال زنان پررنگ بوده اســـت. در قصـــر دارالامان نمایشـــگاه کتاب و قـــرآن که برگزار شـــده بودحضور زنـــان و دختـــران پررنگ تـــر از مردان اســـت. می گوینـــد هدف شـــان از بازدید ایـــن نمایشـــگاه هـــا، انس گرفتن بیشـــتر بـــا کلام وحـــی و کتاب اســـت. بانوان تاکیـــد می کنند کـــه مطالعه کتـــاب می تواند ســـبب افزایش آگاهـــی آنان گردد.

**زهرا یکتن از شـــرکت کنندگان می گوید:** انس با کتاب ســـبب می شـــود تا نسل امروز با دانشـــمندان بزرگ اســـلامی گفتگو کنند. به گفته وی، اکنون که امنیت از تمامی لحاظ در کشـــور برقرار اســـت، جوانان تلاش کنند که ســـطح آگاهی شان را بـــالا ببرند.در هرات نیز نمایشـــگاه خیابانی کتاب برگزار شـــده و بازدیدکنندگان خانم از این نمایشگاه پررنگ است.

**گلشـــاه یکتن از بانوان بازدیدکننده از نمایشـــگاه کتاب در هرات می گویند:** امـــروزه دختـــران مـــی توانند از این طریق ســـطح آگاهـــی خویش را بـــالا ببرند.

**معصومـــه یکتن از بازدیدکنندگان دیگر به رســـانه ها می گوید:** این نمایشـــگاه در آشـــنایی دختران و بانوان با انواع کتاب ها نیز نقش مهمی دارد.

**ســـید مصطفی هاشـــمی یکتن از برگزار کنندگان نمایشـــگاه کابل می گوید:** هدف از برگزاری این نمایشـــگاه، انس با قران و کتاب است. تا جوانان به خصوص دختران بتوانند رابطه شـــان را با مطالعه و کتاب همچنان حفظ کنند. وی از ســـایر نهادهای فرهنگی می خواهد که تلاش کنند تا بخشـــی از خلاء آموزشـــی را با راه اندازی مســـابقات کتابخوانی و نمایشگاه برای بانوان پر سازند.

در نمایشـــگاه قران کریم در قصر تاریخی دارالامـــان کابل، همه روزه بعد از ظهر، محفل انـــس با قرآن کریم نیز با حضور قاریان ملی و بین‌المللی برگزار می شـــود. در این مراســـم نیز حضور خانواده ها پررنگ تر از آقایان اســـت. قرار اســـت این نمایشـــگاه تا هجدهم ثور ادامه داشته باشد.



# د منځنۍ آسیا د اسلامي تمدن ځینې مشهورې سیمې او علماء!

دریمه برخه - م حمادشیرزاد

د لیکنو په یاده برخه کې د اسلامي تمدن هغه مشهورې سیمې ته ورځو، چې د اسلام تاریخ پرې ویاړي، د یادې سیمې علماؤ نه یواځې هلته خپلې ټولنې ته د علم څراغونه روښانه کړل؛ بلکې د نړۍ خلک یې نن د علمي خدمتونو څخه ګټې پورته کوي او ویاړ پرې کوي، نن یې هم نوم زرین دی، د تاریخ دغه ســـیمه په ترمذ یادېږي.

## اوسنی موقعیت او تاریخ

د ترمذ ښار د جیحون د نهر/آمو دریا پر غاړه ختیځ لور ته پروت د اوسني ازبیکستان یو له مشهورو ښارونو څخه دی او د افغانستان سره اوږده پوله او سرحد لري، چې په تېره زمانه کې ورته د ښارونو مور ویل کېده، د لاســـي صنعت او ســـوداګرۍ پر مرکز یې هم شهرت موندلی و، ساسانیانو، امویانو، عباسیانو، مغولیانو/چنګېز، غزنویانو، سلجوقیانو، خوارزمیانو او همدا راز ځینو نورو دولتونو دلته حکومتونه کړي او یاده سیمه د خپلې بې انتهاښکلې او ښایسته معمارۍ له امله هم مشهوره شوې.

## فتحه:

ترمذ په د امویانو په دوره کې د لومړي ځل لپاره د دسعید بن عثمان بن عفان په لاس ۵۶ هجري کال کې د سولې په ذریعه فتحه شو، وروسته بیا د موسی بن عبدالله بن حازم له لوري ۶۹ هـ کال کې فتحه شـــو، خو بیا هم د یادې سیمې خلک په اسلام کې د ننه نه شول او وروسته بیا ۹۰ هـ کال او ۹۳ هـ کال کې د قتیبه بن مسلم له لوري په بشپړه توګه فتحه او دلته د اسلام رڼاګانې خپرې شوې، قتیبه بن مسلم یاده سیمه کې د بخارا او سمرقند په څېر د دین د ترویج او خپرولو لپاره ډېرې سترې تیرې کړې او پکې کامیاب هم شو.

په ترمذ کې هم پخواني آثار او یا پخوانۍ ځینې سیمې، تاریخي ځایونه، بازارونه، مانۍ او د اسلافو ځینې هدیرې او قبرونه شتون لري، چې زیاتره سیلانیان یې د ورتګ پر وخت ننداره کوي، خو زیاتره پخوانۍ مدرسې یې چې د اسلام رڼا ترینه په شرق او غرب کې خپرې شوې، اوس یواځې د نندارې په توګه پاتې شوي دي.

## مشهور علماء:

ترمـــذ که څه یو له پخوانیو آبادیو او ښـــارونو څخه ګڼل کېږي، تجارت، صنعت او لاسي کاریګرۍ کې یې هم نوم وتلی؛ خو زیات شهرت یې د یادې سیمې د اسلام باندې له مشرف کیدلو وروسته هم وموندلو، چې د علم او فنونو یو له سترو مرکزونو څخه وګرځېدلو، موږ به یې دلته یو څو هغه مشهور علماء او سلف یاد کړو چې په ترمذ کې تېر شوي او اړیکه ورسره لري.

۱- د احادیثو د صحاح سته په درجه بندۍ کې د مشهور کتاب «الجامع الصحیح للامام الترمذي» مصنف امام ابوعیسی محمد بن عیســـی الترمذي رح د ترمذ د بوغ له سیمې سره تعلق لرلو، نوموړی د امام بخاري، امام ابوداؤد، اسحاق راهو یه او نورو مشهور علماؤ څخه یې د احادیثو علم ترلاســـه کړی، د احادیثو او نورو فنونو یو له مشهورو امامانو څخه شمېرل کېږي، سلګونه لوی لوی شاګردان یې امت ته روزلي او د احادیثو د مشهور کتاب الجامع الترمذي سربېره یې، شمائل الترمذي و کتاب العلل، کتاب التفسیر، کتاب التاریخ او نور تصنیفات امت ته پریښي او ۲۷۹ هـ کال کې وفات او ترمذ کې خاورو ته سپارل شوی.

۲- د شافعي مذهب مشهور فقیه او عالم ابوجعفر محمد بن احمد بن نصر الترمذي هم د ترمذ له اجله علماؤ څخه شمېرل کېږي، نوموړی د احادیثو لوی امام او د شافعي مذهب یو له مهمو امامانو څخه دی، په عراق کې یې د شافعي مذهب ډېر شاګردان روزلي، امام ذهبي وایي چې په عراق کې د شافعي مسلک قوي عالم له ده څخه بل نه و، د نوموړي له تصنیفاتو کتاب مجموع شرح المهذب زیات شهرت موندلی او په کال ۲۹۵ هـ کې وفات شو.

۳- د تصوف ستر امام چې په بشر الترمذي او حکیم الترمذي سره یې شهرت لرلو، مشهور صوفي عالم محمد بن علي بن الحسن بن بشـــر الترمذي، چې د اهل السنة او تصوف د لارې یو منلی شوی عالم دی، نوموړي د ختم الولایة، علل الشریعة، حقائق/ بحر التفسیر، الادب و ریاضة النفس او د تذکرة الاولیاء په څېر لوی تصنیفات کړي او ۳۲۰ هـ کال کې وفات شوی او همداسې ځینې نور.

# د اسلام ونه د شهیدانو په وینو زرغونېږي

مولوي ضیاء الحق حسان

شهادت د الله تعالی هغه تحفه ده، چې خپل نازولي بنده ګان پرې نازوي، شهادت د جهاد د مدرسې د سترو طالبانو د فراغت سند دی، شهیدان د تاریخ زرین باب جوړوي او د شهید وینه د تاریخ زړه دی، د اسلام ونه د شهیدانو له وینو زرغونېږي.

کله چې په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه امریکا د ناټو تر چتر لاندې د هېواد د یرغمل کېدلو په تکل خورا بې رحمانه یرغل وکړ، د دې ټاټوبي له غیرتي احرارو پرګنو د دوی د مقابلې ډګرونه په لوړ عزم وپالل، امریکایان چې په عصري ټیکنالوژۍ پوره سمبال و، د دوی مقابله هم سخته وه ډېرو به ویل: طالبان لیونیان دي، موټرسیکل او طیاره، دا زاره ټوپک..! خو دوی بیا په توکل محض دیرغلګرو مقابله وکړه.

د دې صف لارویانو په خورا غربت، سفر او له کړاوونو په ډکه زندګۍ کې دغه جهادي بهیر مخته وړلو.

زموږ یوه ملګري مولوي ولي مرجان «فیاض» راته د جهاد د اولو شپو کیسه کوله ویل یې: یو راکیټ مو واخیستلو، ملګرو ته مو ویل کله چې د اختر سرسایې واخلو قرض به یې پرې خلاص کړو، ټوله روژه مو خلکو ته د تراویح لمونځ په جماعت ورکړ، کله چې اختر شو دوی سرسایې راکړې او د راکیټ قرض مو پرې خلاص کړ.

شیخ الحدیث مولوي محمد شریف «حلیمي» راته ویل: د جهاد زنده ګي له غربت ډکه وه، کله چې له کورنۍ جلا شوم، هېڅ مو هم نه لرل، موږ کور کې شپږ کسان وو او ګیلاسونه پنځه راورسېدل، کشرۍ لورکۍ ته به مې ویل: راځه ته له ماسره وار وکړه، هغه به په همدې خوشحاله شوه او له ماسره به یې چای څښلو، یوه ورځ یوه ملګري پنځه سوه افغانۍ راکړې، کور ته راغلم او د ګاز ډبې مې پرې ډکې کړې، په صحرا کې مې الله تعالی ته د شکر سجده وکړه.

د دې اتلانو اتلولۍ، د جهادي دور کیسې لیکل د تاریخ مهمه برخه جوړوي.

دا چې ښاغلي نعمت الله پټانزي «زمري مجاهد» د شهیدې قافلې تر عنوان لاندې یوازې د میدان وردګو ولایت، سیدآباد ولسوالۍ د پټانخیلو کلي ۴۰ شهیدانو ژوند لیک لیکلی مبتکرانه غوراوی دی، الله تعالی دې د زمري مجاهد دغه هڅه ورته قبوله کړي.

د هېواد له غېږې ګڼ اتلان د شهادت له کاروان سره تللي، دلته یوازې د یوه کلي د څلوېښتو شهیدانو ژوند لیک څرګند پیغام لري هغه دا چې د دې سیمې اتلو ظلمکیو د ازادۍ لیلۍ ته څومره ځوانۍ نذرانه کړې.

د کتاب په پاڼو کې ځای پر ځای د سالارو د معرکو یادونه هم شوې، سالار چې په اوسني انقلاب کې یې د دوهم میوند نوم خپل کړ، همدلته ګڼ یرغلګر د اور خوراک شول.

د ذبیح الله جان هغه کیسه چې دی شهید دی او مورکۍ یې کابل کې ده یو څوک ورته وایي چې ذبیح الله زخمي دی او لرې ځای ته یې د تداوۍ لپاره وړي، یو ځل به ورشو، دا چې د اختر کمې شپې تېرې وې نو مورکۍ یې له اختر پاتې مېوه هم له ځان سره غوټه کړه او ویل یې کوندې دومره وي، چې دغه میوه وخوري، خبره نه وه چې هغه د شهادت له کاروان سره تللی د زړه مراندې پرېکوي.

کله چې کابل فتحه شي بیا دې شهید شم؛ من تا یک ساعت دیگر به هدف خود میرسم، دا او دې ته ورته کیسې د دې صف د لارویانو د کراماتو کیسې کوي. جامې مې مه پرېکوه، د هغه زخمي جانان خبر ده چې ډاکتر یې جامې پرېکوي تر څو یې زخمونه تداوي کړي او دی ورته وایي جامې مې مه پرېکوه! د دې صف د لارویانو د غربت کیسې کوي.

په پای کې یو ځل بیا زمري مجاهد ته د دې لوی خدمت مبارکي وایم، دغه راز په نورو لیکوالانو غږ کوم چې د تیرې بې جوړې مبارزې د نوموړکو اتلانو نومونه د تاریخ پاڼو ته وسپاري، نور مو د کتاب لیکلو ته راوبولم.

مینه او درنښت

# پر چابهار او یوې لارې - یوه کمربند پروژه د واخان دهلېز اغېزې

ثناءالله عمران

یوه مهمه مسئله او پر مختګ چې نن سبا په سیمه ییز جیو پولیټکو بحثونو کې ډېر مطرح کېږي، د واخان دهلېز دی. په افغانستان کې د څو لسیزو جګړو او دربدرۍ وروسته د سراسري امنیت ټینګېدو سره د واخان دهلېز په اړه بحثونه د عملي کېدلو په درشل کې دي. دا مهم پر مختګ دوربېنمو سړک جوړېدلو په تړاو دی، چې د افغانستان له واخان ولسوالۍ څخه د چین تر پولې غځول کېږي. د بدخشان په سیمه کې دغه مځکنۍ ۳۵۰ کیلومتره اوږده تړانګه د نړۍ د درېیو لویو غرونو لړۍ لکه هندوکش، قراقرم او پامیر د نښلون ځای دی. د دغه د هلېز د رغونې چارې چې لا له وړاندې د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت له لوري پیل شوې، په بشپړېدو به یې افغانستان مخامخ له چین سره وصل شي. ۲۰۲۳ ز کال کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویلي وو، چې له چین سره د سوداګرۍ زیاتېدو په هڅه کې دي څو د واخان له لارې له چین سره ونښلېږي. د یاد دهلېز په رغېدو سره به د دواړو هېوادونو تر منځ د مځکني واټن کمېدو تر څنګ د سوداګریزو وارداتي او صادراتي توکو د لګښت پر راټیټېدلو هم اغېز ولري.

د دې لارې له امله د وارداتو – صادراتو پیاوړي کېدو سربېره تمه کېږي افغانستان به د مالیاتو له درکه د پام وړ پراخ عواید ترلاسه کړي. د دهلېز اړوند د دواړو حکومتونو تر منځ جدي بحثونه خورا مهم دي، چې په افغانستان او سیمه کې د سوداګرۍ او اقتصادي فعالیتونو د ودې لپاره د پام وړ فرصتونه رامنځته کوي. واخان به وه کولی شي د ټرانزیټ سوداګرۍ په برخه پر پاکستان د افغانستان تکیه راکمه کړي. همدارنګه افغانستان به په بالقوه توګه له نورو سیمه ییزو قدرتونو سره د نېږدې اړیکو په تکل کې شي، چې دا په خپله په سیمه کې د پاکستان جیو پولیټیک نفوذ د لړوالي په لوري سوق کړي.

د واخان دهلېز فعالېدل به نه یوازې د پاکســـتان– چین پر اقتصادي دهلېز، ورسره خوا کې ګوادر؛ کراچۍ، د چابهار بندرونو باندې هم مثبتې اغېزې ولري او په وچه کې راګیر منځنۍ اسیا به د یاد دهلېز له لارې د یادو بندرونو سره ونښلول شي، خو په پاکستان کې د ناامنیو ډېرېدل او اوږدېدل به د اړوند هېواد ترانزیټي تأسیساتو څخه ګټنه ستونزمنه کړي. مګر پر ځای یې چابهار بندر ښه بدیل کېدلی شي، چې د هند له پانګونې سره په ایران کې جوړ شوی دی.

دغه لاره کولی شي د بېلا بېلو توکو لکه معدنیات، ټوکر، زراعتي محصولاتو او تولیداتو تجارت اسانه کړي. د منځنۍ اسیا هېوادونه کولی شي طبیعي زېرمې لکه تېل، ګاز او منرالونه صادر او یو شمېر نور توکي لکه ټوکر، ماشینرۍ او برېښنایي توکي بیا وارد کړي.

له دې لارې د سوداګرۍ حجم به په بېلا بېلو فکتورونو پورې اړه ولري لکه د بیخ بنسټونو ظرفیت، په سوداګریزو مقرراتو کې اسانتیا او د بازار تقاضا. په هر صورت د واخان سوداګریز دهلېز پرانیستلو سره به چابهار او کراچۍ بندرونو له لارې د هند سمندر ګرمو اوبو ته لاسرسي سره به د سوداګرۍ حجم د پام وړ ډېر شي.

دا چې په اوسني عصر کې د چین تجارت د نړۍ په مارکیټونو کې ځانګړی ځای لري او د بېلابېلو هېوادونو لپاره په مختلفو نورمونو اجناس تولیدوي له همدې امله ایران او عربي هېوادونه هم لېواله دي چې له دې لارې له چین سره سوداګري ولري.

واخان د سوداګریزې لارې په توګه کولی شي د افغانستان ستراتیژیک او جیو پولیټیک موقعیت نور هم لوړ کړي، د منځنۍ آسیا بازارونو سره به یې اړیکې زیاتې او اقتصادي وده به یې چټکه کړي. د دې لارې په اوږدو کې د بیخ بنسټونو پراختیا به اقتصادي وده وهڅوي، د کار فرصتونه به رامنځته کړي او د خلکو تر منځ اړیکې به وده ومومي، چې دا په سیمه کې د لا زیات تفاهم او همکارۍ سره مرستندوی تمامېدلی شي. سربېره پر دې، یاد دهلېز د منځنۍ اسیا هېوادونو ته په ترتیب سره د چابهار؛ ګوادر بندرونو له لارې بین المللي بازارونو ته د لاسرسي په موخه لنډه او اغېزناکه لاره چمتو کوي، ځکه د دواړه بندرونه د هُرمز تنګي په خوله کې له ستراتېژیک موقعیت څخه برخمن دي.

د چین لپاره د واخان پولې پرانیستل به د یوه کمربند او یوې لارې د نوښت د یوې برخې په توګه بېلابېلو بازارونو ته د چینایانو لاس رسي د پر مختګ لپاره زمینه برابره کړي. د دې لارې عملي پرانیستل تر ډېره بریده د افغان حکومت په وړتیا، د افغانستان کې په ثبات او د چین په لېوالتیا پورې اړه لري. دا هغه څه دي چې نن سبا یې عملاً وینو او د افغان او چینایي چارواکو تر منځ په لیدلو کې ترې یادونه کېږي.

تازه د ا.ا. د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد د چین سفیر جاوشینګ سره د لیدنې پر مهال د نورو مسائلو تر څنګ دواړو لورو تر منځ د سرحدي ستونزو او واخان پروژې په اړه هم بحث درلود.

همدارنګه تېر کال سفیر ویلي وو، چې چین او افغانستان لا زیاتو سوداګریزو او ترانزیټي همکاریو ته اړتیا لري. د هغه په خبره چین او افغانستان به دوربېنمو لارې په وسیله سوداګري او ترانزیټ پراخ کړي او په دغه برخه کې ګټور پلانونه تر غور لاندې لري.

د دغې سوداګریزې لارې له پرانیستلو سره به زیاتره د هغه توکو جریان چې له افغانستان څخه چین ته روان دي یا برعکس، هغه که د سمندر یا د وچې له لارې وي د واخان بندر له لارې ترسره شي. د دې لارې اهمیت چین ته ډېر دی ځکه چې بیجینګ په زیاتېدونکي توګه په افغانستان کې د قیمتي او نادرو کانونو د استخراج په برخه کې لېوالتیا ښیي. ۲۰۲۳ ز کال کې یوې چینایي کمپنۍ د لیتیم استخراج په برخه کې پر افغان کانونو د لس میلیارده ډالره پانګونې لپاره چمتووالی ښودلی و. په ځینو مواردو کې په عملي توګه د کانونو په سکتور کې پانګونې ته داخل شوی، چې ښه بېلګه یې سرپل ولایت اړوند په قشقري نفتي حوزه کې د تېلو د استخراج په برخه کې پانګونه ده.

که په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ شبکه په ښه توګه وده وکړي او د واخان کورېډور له لارې له چین سره ونښلول شي، دا به د شرقي او غربي اسیا د اتصال په معنی وي چې په تاریخ کې به د عطف ټکی شي ځکه په اسیا کې بېلا بېلې تجارتي، سیاسي او فرهنګي معاملې د یادې پروژې څخه اغېز منېدای شي. افغان چارواکو هم ویلي چې په اوږد مهال کې د اوسپنې پټلۍ اسانتیاوې هم یاد دهلېز کې مدنظر نیول شوي دي.

د افغانستان ځانګړې جغرافیایي موقعیت د ختیځې او لوېدیځې اسیا تر منځ د سوداګریزو اړیکو جوړولو لپاره پام وړ مخینه او ظرفیت لري او د واخان دهلېز یو له هغو سیمو څخه دی چې کولی شي د پخوا په څېر د افغانستان دا ځانګړې جغرافیوي ظرفیت یو ځل بیا جوت کړي.

په ټولیز توګه ویلی شـــو په هره اندازه چې افغانستان وکړی شي د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره په عصري ټکنالوژۍ سمبال ټرانزیټي او تجارتي لارې پرانېزي، په هماغه کچه به یې پر اقتصادي بر خلیک مثبت اغېز وکړي.

## دیدار هیئت ترکمنستانی ...

پیام مردم هرات را به مسوولان کشور شان رسانده و تلاش می‌کند که آنان را وادار کند تا بنا های تاریخی هرات را بازسازی کنند. اتاقلی اف ابراز خوشحالی می‌کند که هرات توانسته است که بنا های تاریخی مختلف را حفاظت کند.نوکر قلی ابراز امیدواری نمود که بازدیدکنندگان از سراسر جهان در این مکان بیایند و در مورد تاریخ غنی افغان‌ها بیاموزند.همچنان در این دیدار از موزیم، دارالفنون و بخش های مختلف قلعه اختیارالدین بازدید صورت گرفت. رئیس اتحادیه صنعت و تجارت کشور ترکمنستان در جریان بازدید از این بنای تاریخی همچنان به تاکید تقویت روابط فرهنگی با کشور افغانستان کرد. قلعه اختیارالدین هرات با قدمت در حدود ۲هزار ۷۰۰ سال یکی از باشکوه‌ترین بنا های تاریخی کشور بشمار می‌رود.

## ساخت یک مکتب در جاغوری...

است.قرار است ساختمان مکتب داود زیرک در گستره‌ای چهار جریب زمین ساخته خواهد شد.در خبرنامه آمده که این مکتب دارای ۲۰ صنف درسی یک اتاق اداری، کتاب‌خانه، یک محراب مسجد و تحویل‌خانه خواهد بود.وزارت معارف از این اقدام مردم معارف‌دوست والسوالی جاغوری قدردانی کرده است.

## بامیانو کې تېرکال شاوخوا...

کال د یادو دفترونو له لارې توانیدلي، چې درې زره او ۱۴۱ کسانو ته په کاغذي پېژندپاڼو کې د اصلاحاتو او ۱۶ زره او ۳۶۲ نورو کسانو ته د ژوند پېښو (۱۵ زره او ۹۶۱ زیږون کارتونه او ۴۰۱ د مړینې پارچې) اړوند خدمتونه وړاندې کړي.د یادونې وړ ده، چې بامیانو کې د برېښنايي پېژندپاڼو یوه وېش ځانګې فعاله ده، هره ورځ ښځینه او نارینه غوښتونکو ته خدمتونه وړاندې کوي په دې ځانګه کې تېر کال پر وېشل شويو برېښنايي پېژندپاڼو سربېره یو زر او ۶۲۴ نورو کسانو ته د برېښنايي پېژندپاڼو تر وېش وروسته خدمتونه هم وړاندې شوي دي.

## افغاني سره میاشتې . . .

یې د افغاني سرې میاشتې له لوري ورکول کېږي.د یادونې وړ ده، په تېرو ۲۱ میاشتو کې افغاني سرې میاشتې د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۳ زره ۶۸ ماشومان د درملنې او عملیاتو لپاره د هېواد دننه بېلابېلو روغتونونو ته ورپېژندلي دي.

## د غزني ښاروالۍ تېرکال څه باندې ...

افغانۍ عواید راټول کړي چې د تېر کال په پرتله څه باندې ۱۵ برابره زیاتوالی ښيي.هغه زیاته کړه، چې دغه ښاروالۍ په ۱۴۰۱ کال کې څه باندې ۱۲ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي وو .نوموړي زیاته کړه، چې یادې ښاروالۍ په دې موده کې ۱۲ کوڅنۍ او لویې پروژې پلې کړې، چې پکې د ښار دننه د سړکونو کانکرېټ، دوکانونو، محافظتي او احاطوي دیوالونو، سونا حمامونو او سوداګریزو مرکزونو جوړول شامل دي.د هغه په وینا، سږکال د غزني په ښار کې ۱۹ نورې پروژې هم پلې شوې چې د ښار په یو شمېر عامه واټونو کې د ګلدانونو جوړول، د سړکونو پخول او د شنو ساحو رغول او بیا رغول په کې شامل دي.

## یونیسف در بخش انکشاف...

و انرژی، بیان کرده است.آقای تاج‌الدین افزوده که پروژه‌های آب در اولویت کارهای صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل نهاد قرار دارد.او همچنان گفته که یونیسف در بخش تقویت آب‌های زیرزمینی و مدیریت منابع آب آشامیدنی نیز در افغانستان بیشتر کار خواهد کرد.در همین حال، ملا عبداللطیف منصور، سرپرست وزارت آب و انرژی با اشاره به تغییرات اقلیمی، از مسوولان صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد خواست که در بخش انتقال آب از دریای پنجشیر به کابل نیز با این وزارت همکاری کند.بربنیاد خبرنامه، آقای منصور در عین‌زمان از رییس یونیسف در بخش ظرفیت‌سازی انجنیران و تامین تجهیزات تخنیکی خواستار همکاری شد.یونیسف از بخش‌های مربوط به سازمان ملل متحد است که پس از حاکمیت امارت اسلامی پروژه‌های زیادی را در بخش تامین آب آشامیدنی صحی در کشور عملی کرده است.

## د افغانستان او ترکمنستان . . .

دغه راز د ترکمنستان د سوداګرو او صنعت کارانو ټولنې رییس د دې ترونونو په اړه خوښي څرګنده کړې او ویلي یې دي، په نږدې راتلونکې کې به د هرات ولایت صنعتي ښارګوټي څخه ترکمنستان ته د افغانستان د تولیداتو د لېږد لپاره قراردادونه وکړي.د هرات والي مولانا نور احمد اسلام جار په یاد ولایت کې د تولیدي شرکتونو د محصولاتو پر معیاري کېدو ټینګار کړی او هیله یې څرګنده کړې، چې ترکمنستان ته به د هرات د صنعتکارانو تولیدات د افغانستان د صادراتو غوره بېلګه وي.د یادونې وړ ده، چې د دغو ترونونو له مخې به د مرمرو ډبرې، ګول سیخ او د افغانستان تولید شوی رنګ ترکمنستان ته صادر شي.

## نزدیک به ۴۰ میلیارد ...

آغاز۱۴۰۲ الی ختم آن ۵٫۷۶ میلیارد کیلوات برق خریداری شده که از آن میان ۵۴۱٫۱۸ میلیون کیلوات درساعت تولید می شود و ازامضای توافقنامه ها در سال ۲۰۲۴ و۱۴۰۳ به منظور برق رسانی منظم برای هموطنان و ۱۰۴ پروژه به ارزش بیش از ۳ میلیارد افغانی، نیز یاد آوری کرد.

سپس عبدالرحمن رحمانی رئیس امورعملیاتی شرکت برشنا دراین کنفرانس اذعان داشت که:» شرکت برشنا یک اداره خدماتی است که درسال ۱۴۰۲ دربخش های عملیاتی، سوداگری و خصوصی دستآورد های خوبی ازجمله تطبیق و عملی کردن فرامین، حکم ها، رهنمایی امیرالمؤمنین حفظه الله، مصوبه های کابینه و امضای توافقنامه تکیمل پروژه بزرگ کاسا یکهزار که ۷۲ فیصد کار آن تکمیل شده و ۲۸ فیصد آن به ارزش ۹۰ میلیون دالر که به زودی آغاز و درمدت دوسال تکمیل خواهد شد، دارد.

نامبرده همچنان علاوه کرد: کاراعمار پروژه های جدید و نیمه کاره این اداره در ولایت بلخ سپ استیشن ولسوالی چمتال، در ولسوالی میوند، درولایت غزنی، شبرغان، میدان وردک، پنجشیر، کنر، ، کندهار، ۲۰ تاسیسات وزارت امور داخله، ۱۳ تاسیسات وزارت دفاع ملی، استیشن گلبهار، لوگر، گردیز و سایر پروژه ها در ولایات جریان دارد وافزود که زمینه سرمایه گذاری درسرتاسر کشورمساعد است و ازسرمایه گذاران داخلی و خارجی خواست تا به منظور رشد، تولید برق رسانی درافغانسان سرمایه گذاری کنند.

میرویس عطایی معاون ریاست سوداگری شرکت برشنا نیز بیان داشت:» ۳۷٫۸ میلیارد افغانی عواید بابت صرفیه برق جمع آوری شده که درتناسب با اهداف تعین شده ی این اداره بیشتراست که شامل مقروضیت ها می شود در خصوص پرداخت صرفیه ادارات وزارت مالیه نقش کلیدی را ایفا نموده و بخاطر رسیدگی مشکلات مشترکین و کاهش ضایعات؛ سهولت هایی درولایات از قبیل پروسه بانک سازی درجهت جمع آوری پول با شرکت خصوصی و بانک خصوصی، نصب میترها، سیستم سازی بل لنک، پروسه اقساط، ثبت مشترکین فراهم گردیده است.

آقای عطایی تصریح کرد که: تعدادی از زورمندان و سیاسیون که درگذشته پول صرفیه برق شان را پرداخت نکرده بودند، شرکت برشنا تا اکنون به اثر سعی وتلاش شبانه روزی مبلغ ۱۸۸ میلیون افغانی را از آنان جمع آوری و حاصل کرده است.

قابل یاد آوریست که به اثر باران های اخیر درکشور تولیدات برق درحال افزایش است و پرچاوی های برق درتناسب با سال قبل از بین رفته است.

**قیس ـ اطلاعات**

# افغان اعلانات

### اعلان

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه وتدارک (۱۷۷) قلم افزار کار و مواد خام مورد ضرورت ورکشاپ های قطعات مرکزی وقول اردو های ساحوی ازبابت سال ۱۴۰۳.

نوع قرارداد:بالمقطع روش(داوطلبی باز داخلی). شماره داوطلبی: وزارت دفاع ملی -۱۴۰۳-اجناس-۰۰۸۰-۲۲۴۱۳ اشتراک نموده و آفر های سربسته خویش رامطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

آدرس ومدت اخذ شرطنامه:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/سافت (CD)اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلود نمایند .شماره تماس(۰۲۰۲۶۱۲۰۸۶).

تضمین آفر: مبلغ(۷۰۰,۰۰۰)افغانی بشکل گرانتی بانک اخذمیگردد.

نوت : تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق‌میباشد.

ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبار می باشد.

ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشائی:از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

محل آفرگشائی:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گاردسابقه‌بلاک‌آفرگشائی.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفر اسناد تقاضاشده مندرج شرطنامه‌راتسلیم نمایند.

++++++

### اعلان

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه سه جایداد ذیل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان می سپارد.

۱ موازی ۹۲۰ مترمربع زمین پشمینه بافی واقع کنار سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه۹ به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۸۸۶۰ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی اس نمبر)

۳۴٫۵۴۳۷۹-۶۹٫۲۸۵۴۴

۲ موازی۲۲۱۰ مترمربع زمین پشمینه‌بافی واقع کنار سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲۲۷۰۰ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی‌اس نمبر)۶۹٫۲۸۲۸-۳۴٫۵۴۴۳

۳. یکدربند حویلی دو منزله پخته کاری بمساحت۶۵۰ مترمربع واقع حصه دوم کارته پروان مربوط ناحیه چهارم شاروالی کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۸۶۶۶) افغانی.

کوردینات(جی.پی‌اس نمبر)

۳۴٫۵۳۵۹۷-۶۹٫۱۳۵۴۷

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۱۹/ثور/۱۴۰۳ الی ۸ /جوزا/ ۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذنمایند.

آدرس:سینماپامیرتعمیر۱۴منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز،شماره تماس(۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷-۰۲۰۲۹۲۴۶۲۴).

تاریخ مجلس داوطلبی۹ / جوزا/ ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰)قبل از ظهر برگزار میگردد

++++++++

### اعلان

موضوع تدارک: اعلان دعوت به داوطلبی پروژه ساختمانی { تهیه مواد واجرای احجام پروسه کاری امورات (ساختمانی،شبکه برق سیستم سولري و آبرساني (اعمار ۱۴ باب پوسته ۱۰ نفري نوع سنگی که شامل تعمیر پوسته گاردتاور، نوع تشناب، حمام و دیوار احاطوی}

نمبرتشخیصیه (وزارت دفاع ملی -۱۴۰۳- امور ساختمانی -۰۱۲۱-۲۵۱۰۵)

آدرس و مدت اخذ شرطنامه: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک پنجم اطاق نمبر(۲۱۳) از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) بیست و یک یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات شماره تماس (۰۲۰۲۶۱۲۰۹۷).

تضمین آفر: مبلغ {۱۰۰۰۰۰۰} یک میلون افغانی به شکل بانک گرنتی اخذ میگردد..

روش تدارکات و زبان: داوطلبی باز داخلی (دری و پشتو).

ضرب العجل تسلیمی آفرها: از تاریخ نشر (۲۱) روز تقویمی الی ساعت (۱۰:۰۰) بجه قبل از ظهر میباشد.

ضرب العجل آفرگشایی: از تاریخ نشر اعلان به مدت (۲۱) روز تقویمی ساعت (۱۰:۰۰) بجه قبل از ظهر.

نوعیت اخذشرطنامه:بشکل کاپی/سافت(CD)داوطلبان میتوانند شرطنامه را بشکل سافت دریافت نموده و حق دارند با اصل شرطنامه آنرا مقایسه نموده و اطمینان خویش راحاصل نمایند.

همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی (www.mod.gov.af ) دانلود نمایند.

محل آفرگشایی: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گاردسابقه‌بلاک‌آفرگشایی.

نوت: از داوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آنرا مطالعه نموده و هنگام تسلیمی آفر اسناد توانمندی مالی و سایر اسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه‌راتسلیم‌نمایند.

نوعیت اخذ شرطنامه: در صورتیکه داوطلبان شرطنامه را از ویب سایت های وزارت دفاع ملی و اداره محترم تدارکات ملی به شکل سافت بدست میآورند تقاضا میگردد تا به صورت دوامدار به ویب سایت های متذکره رجوع نموده تا در صورت تعدیلات متعاقباً معلومات لازمه را بدست آورند و حین ارایه آفر خویش تعدیل (در صورت لزوم) آنرا مهر و امضا نموده و ضم آفر خویش ارایه بدارند شرکت هاییکه‌بشکل هارد، کاپی بدست میآورند در صورت هرنوع تعدیل توسط ریاست تدارکات رسماً به جانب شرکت اصدار خواهند یافت و شرکت دریافت کننده مکلف خواهد بود حین ارایه آفر آنرا مهر و امضا نماید.

داوطلبان که از طریق انترنت شرطنامه اخذ مینمایند قبل از جلسه آفرگشایی جهت راجستر شدن با ورقه درخواست به دفتر ریاست تدارکات مراجعه نمایند.

نوت: داوطلبان که از طریق انترنت شرطنامه اخذ مینمایند جهت اخذ نقشه و لایحه کار پروژه متذکره به شعبه بخش ساختمانی این ریاست مراجعه نمایند.

++++++

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم داوطبان رسانیده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد پروژه اعمار دیوار محافظوی برای جلو گیری از تخریب پایه نمبر ۰۸۳ از اثر سیلاب های ناشی ولسوالی بادپښ ولایت لغمان برشنا شرکت / ۱۴۴۵ / داوطلبی باز ملی/ ساختمان/۰۲۶ را باشرکت ساختمانی و سرک سازی نثار نصیر دارنده جواز نمب۲۵۲۳۴ با داشتن محل اصلی شرکت خوجه مشهد مقابل باغ ناشر مرکز کندز به قیمت مجموعی مبلغ ۱۶۰۰۰۰۰ یک میلیون شش صد هزار افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت – دهمزنگ –کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهدشد.

+++++++

### اعلان

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه وتدارک (۱۰) قلم پرزه جات وسایط هاموی زرهی مودل (۱۱۵۲) ضرورت قطعات و جزوتامهای اردوی اسلامی ملی ازبابت سال ۱۴۰۳.

نوع قرارداد:بالمقطع روش(داوطلبی باز داخلی). شماره داوطلبی: وزارت دفاع ملی -۱۴۰۳-اجناس-۰۱۳۸-۲۲۴۰۰ اشتراک نموده و آفر های سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند. آدرس ومدت اخذ شرطنامه:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/ سافت (CD)اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلودنمایند.شماره تماس(۰۲۰۲۶۱۲۰۸۶).

تضمین آفر: مبلغ (۷۰۰,۰۰۰) افغانی بشکل گرانتی بانک اخذ میگردد.

نوت : تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق‌میباشد.

ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد, یعنی مدت۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبار می باشد.

ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشائی:از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

محل آفرگشائی:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گاردسابقه‌بلاک‌آفرگشائی.

نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفر اسناد تقاضاشده مندرج شرطنامه‌راتسلیم نمایند.

+++++++

### اعلان آمریت املاک

اسامی محمد رجب دو باب اتاق مغازه تپیک نمبر ۶ واقع کارته پروان ملکیت این شرکت را به کرایه ماهوار مبلغ (۲۳۰۰۰) افغانی برای مدت سه سال تقاضا نموده است. اشخاص و شرکت های واجد شرایط که به جایداد فوق ضرورت داشته و کرایه بیشتر بپردازند درخوات های خویش را الی مرت (۱۴) یوم از نشر اعلان به آمریت املاک ، شرکت امارتی ارزاق واقع جوار سیلوی مرکزی پرده خودشان رابه روز مزایده حاضر شوند.شرطنامه مرتبه را در بدل قیمت معین بدون بازگشت بدست آورده می توانند. و تضمین نقدا اخذ میگردد.

+++++

### دعوت به داوطلبی

برشنا-۰۵ -اجناس-۱۴۴۵-داوطلبی‌بازداخلی

نام پروژه : تهیه و تدارک وسایل تکنالوژی معلوماتی ( پرنتر های رنگه , سیاه سفید , اسکنر , اسمارت تی وی و ال سی دی ) د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادر پروسه داوطلبی (تهیه و تدارک وسایل تکنالوژی معلوماتی ( پرنتر های رنگه ,سیاه سفید , اسکنر , اسمارت تی وی و ال سی دی ) ضرورت ریاست تکنالوژی معلوماتی دافغانستان برشناشرکت

دارای کود نمبر (برشنا-۰۵ -اجناس-۱۴۴۵-داوطلبی باز ملی) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت تدارکات اجناس بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز شنبه تاریخ ۱۴۰۳/۰۳/۱۵ به ریاست تدارکات دافغانستان برشناشرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

۱-تضمین آفر : ) (۴۰۲۷۵۰ چهار صدو دوهزارو هفت صدوپنجاه افغانی

۲- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۵/جوزا/۱۴۰۳ برگزار میگردد

۳-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اتاق کنفرانس ریاست تدارکات

۵- آدرس اداره : د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۱۳۶۷۷ /۰۷۲۹۰۰۲۸۲۹

آدرس الکترونیکی : / abduljalal.hasas@dabs.af mukhtar.ahmadi@dabs.af

++++++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت وحید فضل الله شیگوال لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۸۸۸۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش رابعد از طی مراحل قانونی خرید وفروش بالای مرزا فرزند گل رنگ بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۸۸

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم حمید نوید لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۱۴۵۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نور الدین فرزند شمس الدین بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۲

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت پامیر ننگرهار لمتید یک عراده موتر پلیت ۷۷۸۵۸-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای سهراب فرزند پوپل بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۱

+++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوی برادران قریشی لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۷۸۸۲-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش رابعد از طی مراحل قانونی خرید وفروش بالای احسان الله فرزند محمد شریف بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۹۴

++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم‌شرکت جواد مصطفی لمتید یک‌عراده موتر پلیت۶۳۷۸۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد ایمل فرزند محمد جان بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۸۳

+++++++

### اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم، (اتحادیه موتر فروشان ولایت بدخشان) ته دفعالیت جواز ورکړي.د یاد جواز اخیستلو لپاره (ویس الله) د (غلام سخی) زوی د (بدخشان) ولایت مرکز ولسوالي اصلي او د (بدخشان )ولایت (۵) ناحي فعلي اوسیدونکي د رییس، او حزب الله د مولوي آدینه محمد زوی د (بدخشان )ولایت ارګو ولسوال اصلي او د (بدخشان )ولایت (۷) ناحیي فعلي اوسیدونکي د مرستیال په توګه عارض شوي که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري د اعلان له نېټې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلي بڼه وړاندې کړي، له یادې نېټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادرېږي چې دجواز د صدور له نېټې څخه د جوار ترنهایي نېټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري .۹۹۱

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۷۱۱۹۰۰۴۰۰
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 08 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 447

# افغانستان کې د قزاقستان سوداګريزه خونه پرانيستل شوه




د افغانستان په لوېديځ هرات ولايت کې د قزاقستان سوداګريزه خونه پرانيستل شوه. د افغانستان صنايعو او سوداګرۍ وزارت څرګنده کړې، چې د افغانستان په هرات کې د قزاقستان د سوداګرۍ خونه پرانيستل شوه. د صنايعو او سوداګرۍ وزارت سرپرست وزير نورالدين عزيزي په افغانستان کې د قزاقستان د سوداګرۍ خونې پرانيستل د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا او پراختيا په برخه کې يو مثبت او اغېزمن ګام وباله.

د ښاغلي عزيزي په وينا، د کابل-استانې د سوداګريزو غونډو زياتوالی، د خصوصي سکتورونو ترمنځ د همغږۍ اغېزمنتيا، سوداګريزه راشه درشه او شته اسانتياوې او نور هغه عمده سببونه دي چې په تېر ۱۴۰۲ کال کې يې قزاقستان ته د افغانستان په صادراتو کې زياتوالی راوست.

بل پلو، د قزاقستان د سوداګرۍ خونې مشر ارمان يوسينتايوف ويلي چې ددې خونې له پرانيستې يې موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د حجم او ارزښت لوړول دي.

## رویدادهای خارجی

## ولادیمیر پوتین د ولسمشرۍ لوړه وکړه



د روسيې ولسمشر ولادمير پوتين پرون د پنځمې دورې لپاره د ولسمشر په توګه د وفادارۍ لوړه وکړه. په کرملين ماڼۍ کې يو اويا کلن پوتين د بلې شپږکلنې دورې لپاره دا لوړه، په هغو مراسمو کې پرځای کړه چې ډېرو اروپايي هېوادونو په دغه ځای کې له روسيې سره د اوکراين اړوند پرېکون کړی و. دغو هېوادونو د روسيې د ولسمشرۍ ټاکنې هم چې په نتيجه کې يې پوتين په اسانۍ بريا خپله کړه، غندلې. د لوړې دا مراسم د ۲ زره او ۶۰۰ کسانو په ګډون وشول. پوتين ژمنه وکړه، چې د روسيې متحد خلک به پر ننګونو برلاسي او بريالي شي.

## صهيونستانو پر رفح ښار بريد کړی



د اسرائيلو له خوا د اوربند د وړانديز له ردولو وروسته، فلسطيني او مصري چارواکو ويلي، چې د دغه هېواد ټانکونو د رفح پر لور حرکت کړی او پولې ته نږدې شوي دي. د اسوشيېټډ پرېس د راپور پر بنسټ، اسراييلي ټانکونه د غزې په سويل کې د رفح ښار ته ننوتي او تر ۲۰۰ مترو پورې يې پر مختګ کړی دی. په عين حال کې فلسطيني رسنيو راپور ورکړی، چې اسرائيلي چارواکو مصريانو ته خبر ورکړی، چې د دغه هېواد ځواکونه به د عملياتو له بشپړېدو وروسته له سيمې ووځي. له بلې خوا ملګرو ملتونو پر رفح ښار د اسرائيلو د بريد په اړه خبرداری ورکړی چې دا بريد به د لوی بشري ناورين لامل شي. صهيونستانو وړاندې د رفح وګړو ته د دغه ښار د پرېښودو اعلان کړی و. رفح کې اوسمهال شاوخوا يو ميليون کسان اوسي چې نږدې ټول يې د جګړو له امله دغه ښار ته ننوتي دي.

## چين او فرانسې د خپلمنځي همکاريو په پراختيا بحث کړی



ولسمشر شي جين پينګ وړمه ورځ د چين او فرانسې ترمنځ د همکاريو د نوي پېر د پيلولو لپاره د ګډو هڅو غوښتنه وکړه او د انسانانو د ګډ بر خليک ټولنې د جوړولو په باب يې هم بحثونه وکړل. شي جين پينګ دغه غوښتنه په پاريس کې د چين او فرانسې د سوداګرۍ شورا د شپږمې غونډې په پای کې په يوه وينا کې وکړه. ولسمشر پنګ تېره يکشنبه په يوه ناڅاپي سفر اروپا ته ولاړ. پينګ په تېرو پنځو کلونو کې د لومړي ځل لپاره اروپا ته خپل سفر کړی دی. ولسمشر پنګ به فرانسه کې له خپل سيال ايمانوېل ماکرون سره کتلي او پر يو شمېر سوداګريزو اړيکو يې بحثونه کړي دي.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!

## دیدار هیئت ترکمنستانی از قلعه‌ی تاریخی اختیارالدین هرات

هیئت ترکمنستانی از قلعه ی تاریخی اختیارالدین هرات دیدن کردند. در دیدار از این بنای تاریخی، مولوی احمد الله متقی رئیس اطلاعات و فرهنگ هرات، آمران و فرهنگیان این هیئت را همراهی داشتند. رئیس اطلاعات و فرهنگ هرات با بیان این‌که تعداد گردشگران خارجی در این ولایت افزایش یافته گفت که انتظار می‌رود که شاهد گردشگران بیشتر از کشور ترکمنستان نیز باشند. مولوی متقی می‌گوید که در طی یک‌ونیم ماه سال روان، در حدود سه گردشگر خارجی به هرات سفر نموده اند. مولوی متقی می‌افزاید: بازسازی ارگ اختیار الدین همانند روزهای قبل از زلزله از خواسته‌های مردم و مسوولان است. نوکر قلی اتاقلی اف رئیس اتحادیه صنعت و تجارت کشور ترکمنستان می‌گوید که
۳مخ

## افغاني سره مياشت د زړه پر ناروغۍ د اخته ماشومانو درملنه کوي



افغاني سرې مياشتې ټولنې د زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو يوه بله ډله هم په پلازمېنه کابل کې ۴ کورنيو روغتونونو ته د درملنې په موخه ور وپېژندله. سرچينې د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي، ۴۰ ماشومان چې اوسمهال د سوري زړه له ناروغۍ کړېږي، په دغو روغتونونو کې به تر درملنې لاندې ونيول شي چې لګښت
۳مخ

## باميانو کې تېرکال شاوخوا ۵۰ زرو تنو ته پېژندپاڼې ووېشل شوې



د احصايې او معلوماتو ملي اداري ويلي؛ په دغه ولايت کې يې په ۱۴۰۲ لمريز کال کې په ټوليز ډول ۵۲ زره او ۷۶۱ کسانو ته پېژندپاڼې وېشلې دي، چې ۲۹ زره او ۸۰۰ نوې برېښنايي او ۲۲ زره او ۹۶۱ نورې يې کاغذي پېژندپاڼې دي. د ياد ولايت د احصايې او معلوماتو رييس خيرالله مبارز ويلي؛ هره ورځ شاوخوا ۷۰۰ کسان د برېښنايي او کاغذي پېژندپاڼو اړوند خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه د ياد رياست اړوندو دفترونو ته مراجعه کوي. ښاغلي مبارز زياته کړې، چې د مرکز په ګډون د دې ولايت په ټولو ولسواليو کې د دوی اړوند دفترونه فعال دي او تېر
۳مخ

## بالای سه مجرم در بدخشان مجازات تعذیری تطبیق شد

ستره‌محکمه‌کشور می‌گوید، بالای‌سه مجرم در ولایت بدخشان پس از صدور حکم‌محکمه، مجازات‌تعذیری‌تطبیق شده است. بربنیاد خبرنامه، مجازات یادشده بالای چهار تن در ولایت بدخشان که به اتهام فروش مشروبات الکلی و قرص‌های نشه‌آور تابلیت کا، بازداشت، شده بودند، عملی شده است. این افراد از سوی دیوان امنیت عامه‌محکمه‌استیناف‌ولایت‌بدخشان، مجرم‌شناخته شده‌اند. از میان مجرمان یک تن‌شان علاوه بر یک سال حبس تنفیذی ۳۵ شلاق و سه تن دیگر از ۳۰ تا۳۹ شلاق در محضرعام، زده‌شده‌اند. در خبرنامه آمده که حکم مجازات این چهارتن در ولایت‌بدخشان به‌تاییدستره محکمه‌امارت‌اسلامی‌نیز‌رسیده‌بود.

## پاک سازی بیش از ۵۰۰ جریب زمین از وجود ملخ در بدخشان

کارمندان ریاست زراعت، آبیاری و مالداری بدخشان به منظور جلوگیری از متضرر شدن مزارع دهاقین از آفت ملخ بیش از ۵۰۰ جریب زمین را در ولسوالی خواهان آنولایت از آفت ملخ پاک سازی نمودند. دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت آبیاری ومالداری بانشر این خبر می نویسد: کارزا مجادله علیه آفت ملخ مضره در سطح بدخشان جریان داشته و تاکنون ۵۰۰ جریب زمین زراعتی را از وجود آن پاکسازی نموده اند. طبق یک خبر دیگر: ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت میدان وردک در همکاری کمیته هالند برای افغانستان کارزار بهاری واکسین انتروتوکسیمیا و ادویه ضد کرم را در حیوانات کوچی ها و ده نشین آنولایت آغاز نمود. قرار است در این کارزار ۵ هزار ۷۰۰ دوز واکسین انتروتوکسیمیا و۹ هزار دوز ادویه ضد کرم در مرکز میدان شهر و ولسوالی‌های این ولایت تطبیق گردد.

## روان لمريز کال په ټول هېواد کې ۵۰۰ نوي خصوصي ښوونځي پرانيستل شوي

د افغانستان د خصوصي ښوونځيو ټولنه وايي، چې د روان کال له پيل راهيسې په ټول هېواد کې شاوخوا ۵۰۰ نويو خصوصي ښوونځيو فعاليت پيل کړی دی. د يادې ټولنې غړي او د خصوصي ښوونځيو مسولين د نويو ښوونځيو په فعاليت کې د پوهنې وزارت کړنې ستايي او په دې برخه کې د رامنځته شويو اسانتياوو هرکلی کوي. ياده ټولنه ډاډ ورکوي چې د پوهنې وزارت سره ممکنه همکاري کوي او په ښوونيزه برخه کې ورسره ګډ کار ته چمتو دي.

## ساخت یک مکتب در جاغوری به ارزش ۲۰ میلیون افغانی آغاز شد



وزارت معارف می‌گوید، سنگ‌بنای ساخت یک باب مکتب لیسه در ولسوالی جاغوری ولایت غزنی به ارزش ۲۰ میلیون افغانی گذاشته و روند ساخت آن آغاز شد. بربنیاد خبرنامه، این مکتب به حمایت مالی باشندگان جاغوری و شماری از تجار، ساخته می‌شود. مکتب یادشده در قریه «داود زیرک» ساخته و به همین نام مسمی
ص۳